# د سپریم کورټ د درې رکني کمېټۍ فېصله

اداره

د ۱۸ اګست په اخبارونو کښې يو وړوکے ولې ډېر اهم خبر خور شو چې د پاکستان د سپريم کورټ درې تني بينچ (چې مشري ئې د سپريم کورټ چيف جسټس افتخار محمد چودري کوله) د خواجه سراګانو په حقله يوه فېصله ورکړه چې د ټول ملک دننه دې، دې خلقو ته مفت علاج او مفت تعليم ورکولے کېږي. درې تني بيج د هغوي د تحفظ د پاره هم د سيکورټۍ يقيني کولو فېصله ورکړه ده. د پاکستان چيف جسټس افتخار محمد چودري د از خود نوټس اخستونکي کېس د سماعت په وخت دا ريمارکس ورکړه چې د ملک د انتظامي نظام چلولو د پاره آئين موجود دے. سپريم کورټ د آئين نه روګرداني نۀ شي کولے. ولې کۀ څوک خدائے پاک دغسې پېدا کړے دے نو دا هم بې شکه چې د خدائے پاک مخلوق دے، هېچا ته دا حق نۀ دے حاصل چې هغه دې د خدائے د مخلوق نه نفرت وکړي. د خواجه سراګانو د بنيادي حقونو تحفظ به کولے شي. دا مسئله کۀ هر څو په نظر کښې وړه راځي خو دا د ډېرو لويو مسئلو نه هم لويه مسئله وه. يو دا چې د خدائے دا مخلوق ځنې خلقو داسې د کرکې او نفرت مرکزونه جوړ کړي دي چې په خپل ملک کښې ورته په کرايه ځائے حاصلول هم ګران شوي وو. تر دې چې دا خلق نه چا د سړو په صف کښې شمار کړي دي نه د ښځو په صف کښې. دوي شايد چې تر اوسه نه د کوم رجسټرېشن حق لرلے دے او نه د ووټ حق، حال دا دے چې کۀ تحقيق وشي نو د خدائے په ټول مخلوق کښې به دا د هر چا نه زيات بې ضرره خلق ښکاره شي. شايد چې د دې ملک په يو جېل کښې به هم څوک يو فيصد دا خلق پېدا نۀ کړي.

دوېم دا چې کۀ آئين دے او کۀ قانون دهغې کار خلقو ته په هره حواله انصاف ور رسول دي. د سپريم کورټ د درې تني بينچ دا فېصله به په دې حواله دا لوئے کار وکړي چې د انصاف د حصول د پاره به د خلکو خوا وزېږوي او طمعه به ئې پېدا شي، ځکه چې د دعوو تر حده د خدائے په پېداوښت يعنې د خدائے په تخليق پورې د کرکې او نفرت تر حده د پچموزوي حق هم داسې خپل حق ګڼي لکه د مور پۍ. د سپريم کورټ فېصله يوازې د خواجه سراګانو د حقونو د تحفظ لار نۀ هواروي، بلکې زمونږ د خدائے د مخلوق نه د کرکې او نفرت په رويو کښې فرق هم پېدا کوي چې دا د ټولو د پاره د دغسې ګناه نه د بچ کېدو لارې پرانيزي.

